## ملالۍ د لوړو زده کړو مؤسسه

# د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي کتلاک



۱۳۹۹ لمریز کال



# د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي پېژندنه

د حقوقو او سياسي علومو پوهنځی په ۱۳۹۱لمریز کال کي د لوړو زده کړو وزارت د (۸۹) (۱۳۹۱/۱/۲۸) حکم په اساس د کندهار ولایت یوولسمه ناحیه د عینو مېني په ښارګوټي کي خپل فعالیت پیل کړ.
په پیل کي یې دوې فارغ ورکوونکي (قضاء او څارنوالي او اداره او ډیپلوماسي ) څانګي لرلي، چي د اتو استادانو له لوري یې تدریس کیدو او په کال ۱۳۹۹ لمریز کي د لوړو زده کړو وزارات د نوی نصاب له مخي یې د څانګو نومونه په حقوقو، سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو بدل سول.
د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی د ورځي په دوو وختونو (سهار او مازدیګر ) کي تدریس لري، چي تر اوسه یې له دواړو څانګو څخه یوولس دورې فارغان ورکړي دي؛ د فارغانو له ډلي «۳۷۷» تنه نارینه او «۱۴» تني ښځینه دي؛ د برحاله محصلینو شمېر یې تر ۶۰۰ کسانو اوړي.
د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی پلان لري تر څو د محصلینو او استادانو لپاره د مالي منابعو په مرسته د څېړنو ، له دولتي او خصوصي سکتورونو سره د ګډو همکاریو ، د حقوقي کلنیک د فعالیتونو په زیاتوالي د عملي کارونو زمینه ډیره کړي.

**د حقوقو ډیپارټمنټ ټوله دوره څلور کاله (اته سمسټرونه/۱٦ اونۍ) ده، ورځنۍ تدریس یې درې ساعته دی او هر ساعت ۵۰ دقیقې دی، چي مضامین او کریډټونه یې په دې ترتیب دي:**

| اساسي مضامين | | | تخصصي مضامين | | | اختياري او پوهنتون شموله مضامين | | | عملي كار او مونوګراف | | | مجموعه | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| مضامینو شمېر | کریډټونه | فیصدي | مضامینو شمېر | کریډټونه | فیصدي | مضامینو شمېر | کریډټونه | فیصدي | مضامینو شمېر | کریډټونه | فیصدي | مضامینو شمېر | کریډټونه | فیصدي |
| ۲۰ | ۴۴ | ٪۲۰ | ۳۹ | ۸۳ | ٪۵۲ | ۳۱ | ۲۰ | ٪۱۳ | ۵ | ۱۱ | ٪۷ | ۹۵ | ۱۵۸ | ٪۱۰۰ |

**د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو ډیپارټمنټ ټوله دوره څلور کاله (اته سمسټرونه/۱٦ اونۍ) ده، ورځنۍ تدریس یې درې ساعته دی او هر ساعت ۵۰ دقیقې دی، چي مضامین او کریډټونه یې په دې ترتیب دي:**

| اساسي مضامين | | | تخصصي مضامين | | | اختياري او پوهنتون شموله مضامين | | | عملي كار او مونوګراف | | | مجموعه | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| مضامینو شمېر | کریډټونه | فیصدي | مضامینو شمېر | کریډټونه | فیصدي | مضامینو شمېر | کریډټونه | فیصدي | مضامینو شمېر | کریډټونه | فیصدي | مضامینو شمېر | کریډټونه | فیصدي |
| ۲۰ | ۴۱ | ٪۲۸ | ۳۹ | ۷٦ | ٪۵۱ | ۲۱ | ۲۰ | ٪۱۴ | ۳ | ۱۰ | ٪۷ | ۸۲ | ۱۴۸ | ٪۱۰۰ |



# د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي مرامنامه

## لیرلید (Vision)

ملالی د لوړو زده کړو مؤسسې د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی به په ملي او نړیواله کچه په اړوند څانګو کي د معیاري تدریس څیړني او مسلکي کادرونو وړاندي کوونکي وي.

## رسالت (Mission)

د ملالی لوړو زده کړو مؤسسې د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی د مسلکي بشري قوې او امکاناتو په مټ د معیاري تدریس ، څیړني او خدماتو د وړاندي کولو په موخه د محصلینو د اکاډمیک ظرفیت لوړولو لپاره هڅې کوي.

## زده کړه ییز اهداف

د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي فارغان به لاندې مهارتونه ولري:

- ☑ قضائیه قوه ، څارنوالي ، دفاع وکالت ، د ملکي خدماتو اداره ، خارجي سیاست دستګاه؛
- ☑ د سیمي، هیواد او نړی په کچه د مسایلو تجزیه او تحلیل وړتیا؛
- ☑ د دولتي او خصوصي شرکتونو او نهادونو سره حقوقي مشاور په صفت؛
- ☑ په بیلابیلو ارګانونو ، ټولنو، دولتي او غیر دولتي مؤسساتو کي چي سیاسي پوهي ته اړتیا ولري، د دندي ترسره کولو وړتیا؛
- ☑ په بیمه او تجارتي بانکونو کي د حقوقي کارشناسانو او مشاورونو په صفت؛
- ☑ له سیاسي کړنو، فعالیتونو، حرکتونو او سیاسي جوړښتونو څخه د علمي درک او سیاسي بصیرت وړتیا لرل؛
- ☑ ماسټري او دکتورا په برخه کي د لوړو زده کړو ترسره کولو وړتیا لرل؛
- ☑ د نورو لپاره مثال ګرځېدل، په مسلک کي امانتداري، نورو ته د زده کړو لیږد او د ټولني پرمختګ لپاره له خپلي پوهي او سیاسي زده کړو څخه مؤثره ګټه اخیستنه؛
- ☑ د اسنادو او وثایقو د ثبت په اداره؛
- ☑ سیاست پوهنه کي، د مذاکراتو مدیریت، د سولي او بحرانونو مدیریت او شخړو حل فصل کي علمي وړتیا درلودل؛

## ارزښتونه (Values)

- ☑ اسلامي او ملي ارزښتونو ته احترام او باور؛
- ☑ د ملي یو والي د روحیې تقویت او د سیاسي ثبات تینګښت؛
- ☑ انساني کرامت ته احترام، د عدالت تعمیم، مساوات او قانونیت؛
- ☑ د ټولني، کار او بازار د اړتیا متناسب معیاري او با کیفیته حقوقي او سیاسي لوړ تحصیلات؛
- ☑ د قانونیت او مسئولیت منلو اصل؛
- ☑ مؤثره، سالمه او مثمره اداره؛

# سرچیني، تدریس، ارزونه

## اداري جوړښت

| د پوهنځي ریاست | د پوهنځي معاونیت | د حقوقو څانګې آمریت | د سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو څانګې آمریت |
|---|---|---|---|
| د حقوقي کلینیک آمریت | تدریسي مدیر | اجرائیه مدیر | مستخدم |

## استادان

- ✓ په دواړو څانګو کې اته «۸» دایمي لیسانس، ماستر او دوکتور استادان
- ✓ په دواړو څانګو کې اتلس «۳۰» بالمقطع لیسانس، ماستر او دوکتور استادان

## تدریسي میتودونه

۱- نوي درسونه | ۲- د استاد او محصل ترمنځ سوال او ځواب | ۳-بحثونه، خبرې اترې او مناقشې | ۴- تمثیلي محکمه، حقوقي کلینیک، حقوقي خدمات | ۵- حقوقي څېړني | ٦- ګروپي کارونه | ۷- د محصلینو سمینارونه

نظري ساعتونه په صنفونو کې تدریس کیږي او د عملي کارونو لپاره محصلین د پلان سره سم دولتي او خصوصي سکتورونو ته معرفي کیږي تر څو د کار ساحه له نژدې څخه ووینې، همدارنګه د سمستر په بهیر کې د عملي کار په موخه تمثیلي محکمه دائرېږي او ترڅنګ یې حقوقي کلینیک کې محصلین عملي کارونه کوي. هر استاد د سمستر په پیل کې محصلینو ته کورس پالیسي ورکوي او له هغه وروسته د کوریکولم سره سم خپل تدریس پرمخ بیایي، په صنفونو کې له محصلینو د څېړني او پرزنتیشنونو په برخه کې عملي کارونه ترسره کیږي او د هر محصل لپاره لارښود استادان ټاکل سوي تر څو د هغوی ستونزې حل کړي.

## ارزوني

۱- منځنی ازموینه: ۲۰ نمرې | ۲- نهایي ازموینه: ٦۰ نمرې | ۳- کورنی دنده او عملي کار: ۲۰ نمرې

د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي محصلین مکلف دي، چې ۲۵ سلنه حاضري پوره کړي، د نه پوره کولو په صورت کې په نهایي ازموینو کې د ګډون حق نه لري او محروم شمېرل کیږي.



## کمېټې او شوراګانې

1. علمي شورا
2. د څېړنې کمېټه
3. تضمین کیفیت کمېټه
4. د نظم او ډسپلین کمېټه
5. د نصاب او کریکولم کمېټه
6. د ازموینو کمېټه
7. د برحاله محصلینو کمېټه
8. د برېښنایي زده کړو کمېټه
9. د ستراتیژیک پلان کمېټه
10. د فارغانو کمېټه

## سهولتونه او امکانات

- لېسانس، ماسټر او دوکتور استادان
- په دولتي او خصوصي ادارو کې عملي کارونه
- د عملي زده کړې په موخه علمي سیرونه
- د تمثیلي محکمې لپاره مجهز ځای
- د غونډو، ورکشاپونو، سیمینارونو او کنفرانسونو لپاره تالارونه
- د تحصیل په بهیر کې د کمپیوټر، انګلیسي ژبې او نورو مهمو مضامینو د  زده کړو لپاره کورسونه
- شنه او ښکلي درسي فضاء، د ناستي او مطالعي لپاره منظم ځایونه، منظم کانتین
- په ټولګیو کې پروجکټورونه، پلازماوي، شني او سپینې تختې، د یخي او ګرمي هوا لپاره ځانګړي تدابیر
- د ښځینه محصلینو لپاره مجهز ټرانسپورټ او جوماتونه
- د محصلینو لپاره ستاینغونډې او فراغت غونډې

## تمثیلي محکمه

تمثیلي محکمه د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي د حقوقو څانګې د عملي کار یوه برخه ده، چې هر کال حداقل دوه ځله ترسره کیږي، په تمثیلي محکمه کې د محصلینو لپاره د قضایي ارګانونو د محاکمو بهیر په عملي بڼه ښودل کیږي. تمثیلي محکمه کې د مجرم، څارنوال، وکیل، قاضي او نورو اړوندو کسانو کرکټرونه ننداري ته وړاندي کیږي، تر څو محصلین په راتلونکو کې یاد بهیر په خپلو کارځایونو کې تطبیق کړای سي.

## حقوقي کلینیک

د حقوقي کلینیک آمریت د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي په جوړښت کې د محصلانو عملي کار لپاره چمتو سوی دی، چې دغه خدمات وړاندې کوي:

بېوزله خلکو ته په وړیا ډول هر ډول حقوقي مشوري ورکول.

د بېوزله خلکو قضیې په ابتدائیه او استیناف محکمو کې په وړیا ډول پرمخ وړل.

غریبو او بې بضاعته خلکو ته حقوقي عریضه، صورت دعوی، دفاعیه، دفع الدفعه، اعتراض او د اعتراض دفع په وړیا ډول لیکل.

د ګرانو هیوادوالو لپاره په وړیا ډول حقوقي مرستې وړاندې کوي.

## مسلکي پرمختیایي مرکز

د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې مسلکي پرمختیایي مرکز د محصلینو، استادانو، اداري او تخنیکي کارکوونکو د مسلکي مهارتونو د ودې په موخه ایجاد سوی دئ، د یاد مرکز له لوري د پلان له مخې محصلینو، استادانو، اداري او تخنیکي کارمندانو ته مسلکي ورکشاپونه، سیمینارونه، روزنیز پروګرامونه او کنفرانسونه دائربېږي تر څو ئې مسلکي مهارتونه پیاوړي سي.

## څېړنیز مرکز

د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې څېړنیز مرکز د خپلو علمي کادرونو، محصلانو او نورو همکارانو سره یو ځای په ملي سطحه روغتیایي او ټولنیزو ستونزو ته د څېړنو په اجراء او د پالیسیو په تحلیل سره مناسبه حل لاره پیدا کوي. د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې څېړنیز مرکز هڅه کوي تر څو د څېړنې په برخه کې د استادانو، محصلانو او ټولنې لپاره  آسانتیاوې رامنځته کړي.

## د محصلانو خدماتي مرکز

د محصلینو خدماتي مرکز د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي د محصلینو لپاره د تحصیل پر وخت او له فراغت وروسته د Internship، Job Fair او Career Fair زمینه مساعدوي. یاد مرکز د خپلو موخو له مخي پلان لري، چي برحاله او فارغ محصلینو لپاره د کار زمینه مساعده کړي. یاد مرکز د بهرنیو دولتي او خصوصي سکتورنو څخه کاري فرصتونه ترلاسه کوي او د ځانګړي طرزالعمل له مخي محصلین ور معرفي کوي، د محصلینو د مهارتونو د ارتقاء په موخه وخت نا وخت ځانګړي سیمینارونه، ورکشاپونه، روزنیز پروګرامونه او کورسونه هم دائروي. همدارنګه یاد مرکز محصلینو ته په حقوقي، اقتصادي، رواني او ورغتیایي برخو کي د مختصصو کسانو په مرسته د مشورو ورکولو زمینه مساعده کړي ده.


## کتابتون

د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي محصلینو د مطالعي لپاره د کانګرس په سیستم مجهز کتابتون لري، چي کتابونه ئې په «۳۳» ګروپونو ویشل سوي او په دربیو ژبو دي. په کتابتون کي کمپیوټر لېب هم سته، چي د انترنټ او سافت کتابونو لپاره ورڅخه ګټه اخیستل کیږي، همدارنګه «۱۶۷» د کتابونو CD ګاني هم موجودې دي.

د ښځینه محصلینو د مطالعي اتاق، د ګروپي مطالعي ځای او د کتابتون څېړنیز مرکز د کتابتون په جوړښت کي نوري برخي دي.

## کمپیوټر لېب

د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي محصلینو لپاره د برېښنایي زده کړو د تحقق په موخه مجهز کمپیوټر لېب لري. یاد کمپیوټر لېب کي د "Hinari" او "AGORA" ویب پاڼو ته د لاسرسۍ امکانات چمتو سوي دي، چي په دي ویب سایټونو کي په زرګونه کتابونه، علمي مقالي او څېړنیز علمي مواد شتون لري.



## محصلان او فارغان

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| برحاله محصلین: | عمومي سمسترونه | ۴۵۳ | نارینه: | ۴۳۷ | ښځینه: | ۱۶ |
| برحاله محصلین: | حقوقو څانګه: | ۸۵ | نارینه: | ۷۴ | ښځینه: | ۱۱ |
| | سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو څانګه: | ۹۶ | نارینه: | ۹۵ | ښځینه: | ۱ |
| فارغان: | حقوقو څانګه: | ۱۳۵ | نارینه: | ۱۳۱ | ښځینه: | ۴ |
| | سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو څانګه: | ۲۴۲ | نارینه: | ۲۳۴ | ښځینه: | ۸ |

## درسي وختونه او فیسونه

| تدریسي وخت | پیل | پای | د یوه سمستر فیس |
|---|---|---|---|
| سهار | ۰۶:۰۰ | ۰۸:۰۰ | دوولس زره افغانۍ: ۱۲۰۰۰ |
| ماپښین | ۰۴:۰۰ | ۰۶:۳۰ | شپاړس نیم زره افغانۍ: ۱۶۵۰۰ |

| د نوم لیکني پړاوونه | |
|---|---|
| په سپین بګروند کي شپاړس قطعي ۳/۴ انځورونه | |
| د پوهني په ریاست د درو کلنو نمرو تأییدول | د تذکرې او شهادتنامې دوې - دوې رنګه کاپیانې |



# د فـــارغانو نـظريـــات

## سردار ولي ولي د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي استاد



د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسه هغه نوم چې زما په شمول ئې د سيمي سلګونه ځوانان په لوړو زده کړو سمبال او ټولني ته ئې وړاندي کړي دي.
زه د يوه استاد په توګه ترې ځانګړې مننه کوم.
نوم ئې اوچت او هڅي ئې جاري غواړم.

## ادريس احمد اتل د کندهار ولايت د سرحداتو او قبايلو چارو رياست د سرحدونو د تنظيم او بررسي کار پوه



ملالۍ د لوړو زده کړو مؤسسه واقعاً د لوړو زده کړو پر معيار برابره ده، د بريا راز ئې دا دئ، چې د کميت پر ځای کيفيت ته ژمن دي. مستعد استادان او د زده کړو لپاره مناسب چاپېريال لري او تر ټولو مهمه دا ده، چې پر حاضري او درسونو کي ډير جديت لري.

## حيات الله پوښتونزاد د افغانستان د زراعتي علومو او ټکنالوژي ملي پوهنتون د دفتر آمر



ملالۍ د لوړو زده کړو مؤسسه په کندهار او سيمه کي يوازينی تحصيلي بنسټ دئ، چې په نوښت او حساب ورکولو کي تر نورو تحصيلي مؤسساتو مخکښ دئ.
زه چې نن هر څه يم، د همدې بنسټ د رهبري پايله ده. زه د دې مؤسسې پر کيفيت، هوډ او راسخو ارادو اعتماد لرم او وياړم چې د دې مؤسسې فارغ التحصيل يم.

## سرينا فيضي د کندهار ولايتي شورا وکيله



ملالۍ د لوړو زده کړو مؤسسې تدريسي ميتودونه او د رهبري هيئت هڅي ئې واقعاً د ستايني دي.
زه د دې مؤسسې د يوې فارغي په توګه ترې مننه کوم او خوښه يم،چې د دې علمي کور غړې يمه.

# د برحاله محصلینو نظریات

## نقیب احمد د حقوقو پوهنځي برحاله محصل



د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی هغه ځای دئ، چي یو کس کولای سي خپل راتلونکی پکښي تضمین کړي. د پوهنځي هر اړخیز پلانونه او د محصلینو په روزنه کي د دوی هڅي واقعاً د ستایلو دي.

## جمیل احمد د حقوقو پوهنځي برحاله محصل



ملالۍ د لوړو زده کړو مؤسسه د ټولني په وده او د ځوانانو په تحصیل کي نوموتی بنسټ دئ، چي د مستعدو استادانو په مرسته ئې مستعد کادرونه ټولني ته وړاندي کړي دي.
زه ئې په کیفیت باور لرم او نورو ته هم ډاډ ورکوم، چي د زده کړو لپاره همدا ځای وټاکي.

## صبغت الله د حقوقو پوهنځي برحاله محصل



ملالۍ د لوړو زده کړو مؤسسې د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی د زون په کچه د زده کړو لپاره بهترین ځای دئ.
دلته موږ باور لرو، چي کولای سو د افغانستان لپاره د علمي کادر په توګه وروزل سو او خدمت وکړو.

## مرضیه یوسفي د حقوقو پوهنځي برحاله محصله



ملالۍ د لوړو زده کړو مؤسسه د تکړه استادانو او منظم درسي سیستم په لرلو سره د سیمي یو غوره تحصیلي بنسټ دئ.
دلته په راتګ مي په خپل شخصیت کي بدلون احساس کړئ او زه به خپلو هیلو ته رسېږم.

## زموږ سره اړیکه

| پته | شبکه |
|---|---|
| www.malalay.edu.af | ویب پاڼه |
| info@malalay.edu.af | برېښنالیک |
| Malalay.mihe | فېسبوک پاڼه |
| Malalayedu | ټوېټر پاڼه |
| Malalay.mihe | انسټاګرام پاڼه |
| Malalay Uniersity | لنکډ ان پاڼه |
| Malalay Uniersity | یوټیوب |
| 0703 300 634 | وټس اپ، وایبر، آیمو، سکایپ، ټلګرام: |
| 0703 300 634 | دفتر شمېره: |

پته: دوهمه عینو مېنه، ختیځ لور، ۲۸ فرعي سړک. کندهار، افغانستان







**د حقوقو پوهنځي ستاینغونډه:** عمومي اول، دوهم او دریيم نمره ګان، د هر ټولګي اول نمره ګان، فعال محصلين او غوره استادانو د ستايني په موخه ستاينغونډي جوړوو.




**د تمثيلي محکمي بهير:** د حقوقو پوهنځي د عملي کار هغه برخه چي د قضايي بهير ټول مراحل پکښي تمثيليږي.



**د حقوقو پوهنځي عملي کار:** د کندهار استیناف محکمه کي محصلینو د محکمي ژوندۍ بهیر له نژدي وکوت.



**فراغت غونډه:** تر دي دمه د حقوقو پوهنځي اتو دورو فارغینو لپاره فراغت غونډي ترتیب سوي دي.

Malalay Institute of Higher Education

# Law & Political Science Faculty Catalog




2020